ISSUE 79 MAY 2024

خانه نو نوی کور

New Home

خانه نو، سرویس خبری برای اهل افغانستان در امریکا است

نوی کور، په امریکا که د افغانانو لپاره یو خبری خدمت دی

**A news service for Afghans in America**

NEW HOME is brought to you by Sahan Journal, Afghan Cultural Society,and Center for Victims of Torture.
It's reported and written by Hussain Ali Haidari.



Photo Credit: Wanman Uthmaniyyah



# په افغانستان کې د امریکا شارژدافیر: مورږ د افغان ښځو د حقونو ملاتړ کوو

- د ښځو پر حقونو د افغانستان لپاره د امریکا د شارژدافیر ټینګار
- طالبانو تر اوسه د ښځو پر وړاندې ۵۰ فرمانونه صادر کړي دي
- د طالبانو د ناسمو پریکړو لګښت په کال کې یو میلیارد ډالر دی

Illustrator Credit: CVT

## په افغانستان کې د امریکا شارژدافیر: موږ د افغان ښځو د حقونو ملاتړ کوو

د افغانستان لپاره د امریکا د سفارت شارژدافیر کیرن ډیکر ویلي چې واشنګټن به هیڅکله د ښځو د حقونو د دفاعځخه پر شاه نه شي. د پنجشنبې په ورځ چې د ثور میاشتي د ۲۰ نېټې سره برابره ده ډیکر پرخپله ایکس پاڼه یا پخواني ټویټر کې د امریکا له ځانګړې استازي ټام ویست او د افغانستان لپاره د ښځو او بشري حقونو لپاره د دغه هیواد له ځانګړې استازې رینا امیري سره د لیدنې په اړه معلومات خپاره کړل. هغه په خپل ټویټ کې لیکلي: "موږ به هیڅکله د ښځو د حقوق دفاع پرې نږدو او په وینا یې چې دوی په افغانستان کې د ښځو او انجونو د کار په اړه خبرې کړي دي. د یادونې وړ ده، چې طالبانو د افغانستان له بیا واک ته رسېدو وروسته ښځې او نجونې له خپلو لومړنیو حقونو، چې په هغو کې د زده کړې او کار په ګډون حقوق شامل دي بې برخې کړې دي. ډیکر تر دې مخکې د افغان ښځو په وړاندې د طالبانو پر تګلارو نیوکه کړې وه. د افغانستان لپاره د امریکا د سفارت شارژدافیر ویلي دي چې د طالبانو له خوا پر ښځو د کار کولو محدودیتونه افغانستان ته په کال کې یو میلیارد ډالر زیان رسوي او دا هیواد یې نشي زغملای. ډیکر تیره میاشت د رسنیو د مسولینو سره په مجازی ناسته کې وویل چې په نړۍ کې هیڅ هیواد د خپل نیمایي نفوس په بشپړ ډول د نه حذف کړي. هغې زیاته کړه چې د دوی د شمېرو پر بنسټ طالبانو د افغان ښځو پر وړاندې تر ۵۰ ډېر فرمانونه صادر کړي دي. دی وویل په د افغانستان خلکو څو ځلې ویلي، چې غواړي ښځې زده کړې او کار وکړي او په عامه ژوند کې ونډه واخلي. ډیکر ویلي دي چې د افغانستان د نیمايي نفوس (نجونې) له زده کړې څخه بې برخې کول د هیواد اقتصاد کمزوری کوي. دغې امریکايي ډیپلومات زیاته کړه: "هیڅ هیواد نشي کولی په خپلو پښو ودریږي کله چې نیمايي نفوس یې د ژوند کولو یا د کورنۍ سره د مرستې توان ونلري."

**خپل پوښتنې او نظر له موږ شریکې کړئ**

**651-504-8170**

**ادامه ...**

دغې امریکايي ډیپلومات زیاته کړه: "هیڅ هیواد نشي کولی په خپلو پښو ودریږي کله چې نیمايي نفوس یې د ژوند کولو یا د کورنۍ سره د مرستې توان ونلري." له بلې خوا ډیکر وویل چې د ښځو په ګډون د ټولو افغانانو د حقوقو تضمین د دغه هېواد یوه ستراتیژیکه اړتیا ده. د یادونې وړ ده، چې طالبانو د افغانستان له بیا واک ته رسېدو وروسته ښځې او نجونې له خپلو لومړنیو حقونو، چې د زده کړې او کار په ګډون اوګښو نورو حقوقو څخه بې برخې کړې دي. څه موده وړاندې په افغانستان کې د ښځو او بشري حقونو لپاره د امریکا ځانګړې استازې رینا امیري هم ویلي و، چې د طالبانو د ناوړه چلند له امله افغانستان هر کال تر یو میلیارد ډالرو زیات زیان ځان ته رسوي. په تېرو دوو کلونو کې په کابل کې د ښځو د حقونو فعالانو په وار وار د خپلو حقونو په اړه د نړیوالې ټولنې پر چوپتیا نیوکه کړې ده. واک ته د طالبانو له راتګ سره په افغانستان کې ښځې د دې ډلې د ظالمانه او تبعیضي پریکړو اصلي قرباني شوې دي. طالبانو د واک ته د رسېدو په لومړیو ورځو کې د ښځو پر اقتصادي، ټولنیزو او سیاسي فعالیتونو سخت بندیزونه ولګول. دوی په بېلابېلو پړاوونو او د بېلابېلو فرمانونو له لارې د ښځو حقونه تر پښو لاندې شول. د ۲۰۲۲ کال د مې په ۲۱مه طالبانو له افغان ټلویزیونونو څخه وغوښتل چې په تلویزیون کې د راڅرګندېدو پر مهال دې ښځې خپل مخونه پټ کړي. په همدې ډول، د ۲۰۲۲ کال د مې په ۷مه طالبانو له ښځو وغوښتل چې په عامه ځایونو کې چادرۍ واغوندي. او دغې ډلې په افغانستان کې له دوو لسیزو وروسته د ښځو لپاره د بورقې اغوستل اجباري شوي دي. طالبانو ښځو ته خبرداری ورکړی، چې که دغه حکم عملي نه کړي، د دوی نارینه به تر دریو ورځو پورې په بند محکوم کړي. د ۲۰۲۲ کال د مې په ۳ مه، طالبانو په هرات ولایت کې د موټر چلولو د روزنې مرکزونو ته امر وکړ چې ښځو ته د موټر چلولو روزنه ورنکړي. د طالبانو له تبعیضي پریکړو وروسته د ۲۰۲۲ کال د مارچ په ۲۲ د منځنۍ او عالي ښوونځیو نجونې ښوونځي ته له تلو منع شوې وې. طالبان وايي، د نجونو د ښوونځیو د پرانیستلو لپاره د جامع او اسلامي پلان ته اړتیا ده. په افغانستان کې له ښوونځي څخه د نجونو د محرومیت په اړه له داخلي او نړیوالو اعتراضونو سره مخ شول، خو طالبانو دغه ټول اعتراضونه له پامه غورځولي او اوس هم په افغانستان کې نجونې ښوونځیو ته له تګ څخه منع دي.